[Afghanistan Digital Library](http://afghanistandl.nyu.edu/)

adl0030

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

نظامنامهٔ

# حاضری

## د مامورینو د دولت د افغانستان

په (۱) د جوزا ۱ په سنه ۱۳۰۶ هجری شمسی

په مطبع کښې د "شرکت رفیق" په ماشینونو

د کابل کښې چاپ شوی

قیمت دیو جلد (۱۶) پول

شماره د چاپ .................. (۲۰۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 2 of 20

تعدیل او

کره

کبنی یادشویل

شی حق د

قرارد دو

په حال د

اطمینان ا

مافوق

مره تصل

کائ

| [illegible] | [illegible] |
| --- | --- |
| ٢ | ١ |
| ١١ | ٣ |
| ٣ | ٤ |
| ٧ | ٥ |

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 3 of 20



بسم الله الرحمن الرحيم

# قانون نامهٔ حاضرۍ

## مقدمه

تول مأمورين چه تر وزارتو او مستقله دا[يرو]
او نائب الحکومګيو او حکومتيو پورې تعلق
لري، سره له قاعدو د دې قانون نامې سره هر[ه]
ورځ په معلومه اندازه وقتونو کښې په ورکړو د حا[ضرۍ]
خلو سره مجبور دي.

قاعده (١) — وقتونه د حاضرۍ د ټولو مامورينو له د
پنځه لسمې د مياشت د حمل څخه تر

پنځه لسمی د میزانه پوری له ساعته د اته څخه
تر څلور نیمه پوری او د رُستی پنځه لسمی د میزان
نه تر پرمی پنځه لسمی د حمله پوری له
ساعته د نه څخه تر دری نیمه پوری منظور
دی - که د رُوژی مبارکه میاشت
په دا سی وقتو کښی بیا له چه حاضری
له ساعته د اته تر څلور نیمه پوری وه.
نو حرمتاً لپاره د شرافت د روژی صباح
په ساعت د نه، او بیګانی په دری
اجرا د حاضری کیږی - او که په
دا سی وقت کښی بیا له چه حاضری له
ساعته د نه څخه تر دری نیمه پوری وه
په دی وقت کښی تخفیف نه لوی.
(۲):- په مرکز کښی، مدیر مامورین د وزارتو،
او آمر مامورین د مستقله دائره او په

نائب الحکومگیو او حکومتیو او په د فترکښې، ؛؛
د مستوفیانو، هغه مامور چه مستوفیانی ئې،
لپاره د کتلو د حاضرۍ مقرر کړیدی،
حاضرۍ د حاضرۍ ورکوونکو به کوی
تصدیق او کتل د حاضرۍ د نورو حاضرۍ
ورکوونکو، په واسطه د مامور د هغې.
شعبې سره یا هغه څوک چه هغوئی مقرر
کړی، کیږی.

(۳):- مامورین د حاضرۍ هره ورځ د صباحی له
خوا په وقت د حاضرۍ کښې کتاب د جدول
د حاضرۍ به خپل مخ ته بږدی، تر نیوید و
د لس دقیقو له معین وقت د حاضرۍ نه به
کوری، هر مامور چه حاضریږی،
په برابر د نوم خپل به امضا او دستخط کړی.

(۴):- پس له کتلو د حاضرۍ د صباح نه چه کلّ

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 6 of 20



لە وقتە د مقرری د حاضری نە تیری شی
مامورین د حاضری، کتاب د حاضری بە
پە مرکز کښی وزیر او معین او مدیر مستقل
تە - او پە نائب الحکومگیو او پە حکومتیو کښی
مستوفی او دفتریانو - او آمرین د حاضری تە
وړاندی کوی، هغو بە حاضری د مامورینو
چە د دوی پوری تعلق لری لە نظرە تیرە وی، پە
آخر د هفتە کښی بە حاضری د صباح امضا او
دستخط کوی.

(٥): د نماښدیگر لە خوا هم پە وقت معینە کښی
مدیر د مامورینو او مامور د حاضری بە پە کتاب
د جدول د حاضری کښی امضا او دستخط کولو
مامورینو پە برابرے د نوم د دوی کښی آخستلی
پس لە هفتە، هفتە وار پە مرکز کښی تصدیق
د وزیر یا د معین یا د مدیر مستقل او پە نائب

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 7 of 20



الحکومکیو او په حکومتیوکښې به امضا د مستوفیانو او د دفتریانو او د مامورین د حاضري کوي.

(٦):- هر مامور چه ترلس دقیقو پوري، پس له معینه وقت د حاضري د صباح د همغې ورځې، حاضر نشي او په برابري د خپل نوم په کتاب د حاضري کښې امضا او دستخط و نکړي غیر حاضر ده یو ورځې شما شي، په سبب د غیر حاضري د یوې ورځې د یځو ورځو تنخواه د ده قطع او کرزول کیږي.

(٧):- مبلغ د غیر حاضري د مامورینو پر موکو. کښې په قرار د خپر ور کول د مدیر مامورین په امضا د وزیر او مدیر مستقل سره د ده ورځې [illegible] سیدل لو د تنخواه نه، هغې دائرې ته چه له دې شخه تنخواه د همغه مامور ور کول کیږي، له تنخواه شخه د همغه غیر حاضر سړي کم و کمولې به په نائب الحکومکیو

او حکومتیوکښي په واسطه د مستوفیانو او محلي
دفتریانو له تنخواه د هغه څخه چه غیر حاضر شوي وي
کړشي .

(٨):- هر کله که یو له حاضري ورکونکو، له خپلې
دائرې نه حضور د اعلیحضرت ته یا کموزارت
او دائره مستقله ته، یا په نزد نائب الحکومګانو
او حاکمانو وه غوښته شي - په مرکزکښي
مدیر یا آمر د مامورینو او په ولایتوکښي مستوفیان
او دفتریان او مامورین د حاضرۍ چهاپي تکټ
چه موجود دي، دی غوښتلي شوي ته به يې
ورکوي - پس له تمامولو د کارونه، په وقت د
بیرته ورتلو کښي خپلې دائرې ته، په هغه تکټ
باندې چه مرکزکښي له کاتبانو د حضورنه
یا له هغه وزارتونه چه دی يې ورغوښتی د
او په ولایتوکښي له مکتوب نویسانو د نائب

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 9 of 20



الحکومکانو او حاکمانو څخه به تصدیق د
کار خپل حاصلوی، خپل کار او خپلی
دائری ته به بیرته ورځی.

(۹):- هر کله چه یو له حاضری ورکوونکو نه
په وقت د کار او خدمت کښی بی له تکت
نه په کوڅه او بازار کښی ولیده شی د لسو
ورځو تنخوائی ګرځی.

بینه
په مرکز کښی په واسطه د هغی دایری چه له د
تنخواه همغه مامور ته ورکوله کیږی په قوا
د خبر ورکولو د مامورینو د حاضری چه په امضا
د وزیر یا د معاین او مدیر مستقل د هغی دائر
ته خبر ورکاوه کیږی، او په نائب الحکو
او حکومتیو کښی په واسطه د مستوفیانو او
د دفتریانو له تنخواه د غیر حاضرینو مبلغ د
حاضری د دوی قطع او ګرځول کیږی.

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 10 of 20



(۱۰):- په مرکز کښې، وزیر او معین او مستقل مدیر
په نائب الحکومګیو او حکومتیو کښې، مستوفیان
او دفتریان، حق او صلاحیت د پلټنه د حاضرې
د مامورینو خیال لري. مدیر د مامورینو یا آمر د مامورینو وقت
کولی شي چه وزیر یا معین یا مدیر مستقل ته په باب
کښې د پلټنه د حاضرې د مامورینو یاد آوری
وکړي.

(۱۱):- هر کله چه یو له حاضرو وړکونکو مامورینو
څخه مریض شي باید چه په مرکز کښې، وزیر
یا مدیر مستقل ته، په نائب الحکومګیو یا حکومتیو
کښې، مستوفیان او دفتریانو او مامورین د حاضرې ته
په لیات سره اطلاع او خبر ورکړي، که
څرګنده د مریضی او رنځوری په یو کال کښې
متصله نه پر نه یا بیلې بیلې پیښې شي حق د
مجرائي لري. لکن زیاد په پنځلس ورځو نه، په قرار

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 11 of 20



د (۱۲) قاعدې سره سمې تقاعد ورکړي - په حال
د حضر یعنی چه سفر نه وی، که د رنځورتیا
اسنوګټه په ښهرکښ وی تصدیق د حکیم،
او که خارج له ښهره وی تصدیق د
قریه دار او وی - په حال د سفرکښ یواځې
تصدیق د مدیر یا د رئیس کافی دی، مګر
مامور مریض شی او په دا قرار سره چه یا
بیان شه تصدیق حاضر نکړی غیرحاضر
کانه شی .

(۱۲):- هرکله یوله ماموریتو څخه کم سخت بستر
مریض شی، په پنځه لس ورځو کښ په قرار
د (۱۱) قاعدې سره تنخوا ئې پوره ورکوله
کیږی، پس له هغه نه که د نخورۍ دده
شوه، په مرکز کښ تر یوکاله پوری نیمانۍ د تنخوا
دده ورکوله کیږی، په نایب الحکومګیو

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 12 of 20



او اعلی حکمتیو کښې څلورم برخه د تنخواه
د دوی ورکوله کیږي - پس له یو کال نه که
حق د مستمري تنخوائی دولوده، په قرار د قانون د
مستمري سره، مستمري تنخواه به ورکوله کیږي،
او که مستحق د مستمري تنخواه نه وي د دولت له
خدمت څخه بدئ ولي سپکیږي.

هغه مامور چه زیاد په پنځه لس ورځو مریض شي
که وظیفه د ده داسي شان کار وڅخه وي چه
شریک قابل شي، نو کار د ده به هغه مامورین چه
شریک د کار د ده دي بي له تنخواه څخه کوي - او که
کار د ده له شریکه کار وڅخه نه وي تر زمانه د روغیدو
د مریض مامور، که ممکن وي، وظیفه د هغه په واسطه
د یو له مامورینو د مشترکه دائرو اجرا کوي،
او که په دي شان سره ممکن نه وي د مریض مامور
ځای د، د هغې دائرې د رئیس له طرفه وکیل

مقرّر شی ، له نیمائی نه دوی چاریکه د تنخواه
د مریض مامور دکار وکیل ته ورکول کیږی
(۱۳) که یو له حاضری ورکونکو مامورینو څخه موقوف
شی ، او مبلغ د غیرحاضری پری باندی باقی پاته
وی ، مدیر د مامورینو د پیه مرکزکښ دائره د
تحصیلی کل ته خبر ورکړی ، چه هغه مبلغ پخپله
له ده څخه واخلی - په نائب الحکومګیو او حکومتیو
کښ ، مستوفیان او دفتریان د په واسطه د تحصیلداری
سره له دوی څخه حاصل کړی ، او که مړ شی نو
حق د تنخواه د ده په دولت باندی پاته وی ،
نو مبلغ د غیرحاضری له تنخواه د ده څخه چه په
دولت باندی پاته دی ، وضع کړای شی ، او
باقی تنخواه د ده ورثه د ده ته ورکوله کیږی
او که تنخواه د ده په دولت باندی پاته نه وی
مبلغ د غیرحاضری ئی معاف دی له ورثه د

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 14 of 20



ځنې تراخستنه کیږي.

(۱٤):- حاضري ورکوونکو ته، غیرله اول واري داده دده کېږي، چه شل ورځې رخصت ورکول کیږي، او غیر له نورو عمومي رخصتیو چه په (۱۷) قاعده کښې بیان شويدي، نور رخصت نه ورکول کیږي لپاره د نورو دوو اوقاتي او لپاره د تمامي سببونو موجبه د رخصت له ورځو د ضروري رخصتیو ځنې چه په (۳) قاعده د نظامنامه د رخصتي کښې بیان شوي دي- آخستای شي.

(۱۵):- په بو رخصت کښې چه کمه لږي ضروري کار پېښ شي، په مرکز کښې وزیران، په ولایتو کښې نائب الحکومه او حاکمان، ترو قته د تمامولو د هغه کار بر سیره په معلومه وقت د حاضري باندې څه مدة ساعت د کار زیاده ولای شي.

(۱۶):- حاضري ورکوونکي مامورین، پس له حاضري

ودکولو د ماشلیکر ځنه چه زیاد فرصت وی ، د ماشلیکر مونځ به اداکوی ، په خوا له حاضری کولو د ماشلیکر ځنه همیشه په وقت د کار کښ ، کاسه نه شی پرېښودی .

(١٧):- عمومی رخصت په دی قرار سره دی چه لاندی ذکر کیږی

(١):- د عید استقلال په موکه کښ (اته) ورځی په نائب الحکومگیو او اعلی حکومتیو کښ (دری) ورځی - تاریخ د شروع د هغی د هر کال په تقویم یعنی جنتری کښ معلومیږی .

(٢):- د کمر اختر (اوله او دویمه) ورځ د اختر

(٣):- د لوی اختر (اوله ، او دویمه ، او دریمه او څلورمه) ورځ د اختر .

(٤):- یسمه ورځ د محرم الحرام (یوه) ورځ

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 16 of 20



(۵):- د دولسمه د ربيع الاول په سبب د مولود شريف (يوه ورځ)

(٦):- رسمي عيد د مبارك جلوس سره له استقلال د غازي اعليحضرت (نهمه) د حوت - کر چو پيدا ل د دي عيد په شپه کښ وي رخصتي نه لوي ، او که په ورځ کښ وي ، يوه ورځ رخصتي لوي .

(١٨):- پس له دي د جمعي د ورځ رخصتي د [مؤذنو] دعا د پنجشنبه په ورځ سره بد له شوله - او آزادي د نيمي ورځي د جمعي بنا په [دي] سبب چه او دس او لمونځ د جمعي په ښه شان سره وکړي شي ، له (١٢) ساعته څخه تر (٢) ساعته پوري منظور دي .

(١٩):- چپراسيان د وزارتو ، او د نورو دولتي دائرو

تر مسئولیّت د (٦) قاعدې د دې قانوننامې
نه داخلې، په مقابل د هرې ورځې غیرحاضرې
تنخواه د هغې ورځې ئې کږوکوخول کېږي .
(۲۰):- په چلول دِ قاعدو د دې قانون نامې سره
پس له تصدیقه او خورکول د هغې په ټولو
مامورینو د ټولو وزارتو او د مستقله دائره
او نائب الحکومگیو او حکومتیو، او په
مامورین د حاضرې امر او اداره کومه
او دستورالعمل د حاضرې چه نخوالدی
ثخه چلیده پس له دی منسوخ دی .

http://hdl.handle.net/2333.1/7m0cfxsc Image 18 of 20



## ضمیمهٔ د نظامنامهٔ رخصتی

هغه مأمورین چه نظر (٦) قاعدی د دی نظامنامی ته غیر حاضریږی، که رقعه د اطلاع د هغی دعوی بشلو د قانونی رخصتی د دوی په هغه ورځ کښی ورسیږی او آمر مافوق اجازه ورکړی، او تصدیق ئی وکړی، له وجود قانونی رخصتی د دوی شخه حسابیږی، او په کتاب د حاضری کښ چه غیر حاضر لیکلی شوی دی کیفیت به ئی ولیکل شی. - دستخط او امضاء د وزیر یا مدیر مستقل به پری وکړی له غیر حاضری شخه معاف او نجیل کیږی، او که آمر مافوق ئی تصدیق ونکړی او اجازه ورنکړی یا تی د قانونی رخصتی ونه لری غیر حاضر شماره شی.

(۲) جوزا سنهٔ ۱۳۰٦

# تعدیل او سموالی د (۱۱) قاعدې د نظامنامې د حاضرې

که هغه ورځې د مریضی او رنځوری چه په (۱۱) مادې کښې یاد شویدی، په یوکال کښې متصله پې په پي یا بیلی بیلي پېښې شي حق د مجرائی لري، لاکن زیاته په پنځلس ورځو په قرار د دوه لسې قاعدې سره نیمګې تنخواه د دوی ګوټي په حال د سفر او حضر پېښ وادو صورتو کښې سم له علم او اطمینان او ډاډ نه د آمرِ مافوق په موجب د تصدیق د آمرِ مافوق حق د مجرائی لري، هغه کسان چه سم له پاس بیان سره تصدیق د آمرِ مافوق خپل حاضر نکړي غیر حاضر ګڼله شي. (۱۸) سرطان ۱۳۰۳

| غلطنامه د قانون حاضری | | | | | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| صفحه | کرښه | داسې چاپ شوی دی | داسې دې ولوستل شي | صفحه | کرښه | داسې چاپ شوی | داسې دې ولوستل شي |
| ۱ | ۷ | ودکلو | ودکولو | ۷ | ۱۰ | ددکولو | ودکولو |
| ۳ | ۱۱ | ترتریډو | ترتریدو | ۹ | ۱ | ډده | ددوی |
| ٤ | ۳ | ادمعین | اومعین | ١٤ | ۹ | ودنځ | ودنځي |
| ۵ | ۷ | لودوی | یوی ودنځي | | | | |

شماره دچ